Volume 7 | Issue II | July – December 2022

# The role of Mullah Arzani Kheshki, a disciple of Roshanist movement in promotion of Pashtu literature

# د پښتو شاعرۍ په وده کښې د روښاني تحريک غړي د ملا ارزاني خوېشکي کردار

Dr. Shazia Naz[1] Dr Sajjad Elahi[2]

**ABSTRACT**

*Mula Arzani Khweshgi zammand in a renowned scholar, a poet of high caliber and a person of such a class that his opponents also admire his contribution in Pashto roshnic movement. Due to his poets he enriched the Rokhani moment. He has been admired by the old as well as new great poets and his works have been appreciated. In this article the researcher have tried to highlight his contributions in the development of Rokhani moment though his poetry.*

**Keywords:ملا ارزانی seyast, adab aw روښانیان**

Pukhtunkhwa Journal

[1] Lecturer, GPGC, Charsadda
[2] Lecturer, Islamia College, Peshawar

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

## تحريک څۀ ته وائي ، معنٰی او مفهوم :

ډاکټر انور سدید د خپلې پي ايچ ډي مقالې وړومبے باب په دې لفظونو شروع کوي ـ

'' تحریک جمود کی یک رنگی توڑ کر ہمہ رنگی اور تنوع پیدا کرنے کا عمل ہے اور اس کی تہہ میں تحریک کا کوئی نہ کوئی عنصر ضرور کار فرما ہوتا ہے۔ عہد نامہ قدیم کے حوالے سے تخلیق کائنات کا مطالعہ کیا جائے تو یہ بات سامنے آتی ہے کہ ابتداء میں ہر طرف جمود تھا۔ فضا یکسر ساکن تھی اور تحرک پر صرف خدا کو قدرت حاصل تھی۔ پھر آدم کو پیدا کیا گیا اور اس جامد فضا میں حرکت کی پہلی امر پیدا ہوئی۔[1] ''

ژباړه :- تحريک د جمود ماتولو او تنوع پېدا کولو عمل دے او ددې په وېخ کښې د خوځښت څۀ نه څۀ عنصر خامخا کار کوي ـ که مونږ د مقدس انجيل پېل کښې ايتونه ولولو نو هغه وائي چې ابتداء کښې جمود وۀ او کائنات په ځاے ولاړ وۀ بيا خداے په خپله خوښه آدم عليه السلام پېدا کړو او په ځاے ولاړ کائنات کښې د حرکت وړومبۍ څپه خوره شوه ـ

دغه اقتباس د تحريک يوه کوټلې پېژندګلو ده د مقدس انجيل دغه وړومبے ايت چې څنګه د کائنات د تخليق عمل په الوهي ژبه ښائي ـ هم ورپسې ايت کښې ددغه جمود ماتولو او د تحريک بنياد ايښودو پس منظر داسې بيانوي ـ

'' اور خدا نے کہا کہ پانیوں کے درمیان فضا ہو تا کہ پانی پانی سے جدا ہو جائے۔ پس خدا نے فضا بنایا اور فضا کے نیچے کے پانی کو فضا کے اوپر کے پانی سے جدا کیا اور ایسا ہی ہوا۔[2] ''

ژباړه :- او خداے ووئيل چې اوبۀ اوبو نه بېلولو دپاره دې منځ کښې فضا وي او فضا ئې پېدا کړه او دغسې اوبۀ اوبو نه بېلې کړې شوې ـ

دغه پورته ايت او دې پسې ايتونو کښې د تخليق اووۀ مرحلې د ''اور خدا نے کہا'' لفظونو سره شروع شوې دي ـ ددې نه مراد هغه اراده ده چې مونږ ئې د کائنات د تخليق نه واخله په دې کښې د بدلون تر حده پورې د سپېځلي قرآن دې ايت کښې معنې وينو چې :

اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْئًا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٨٢﴾[3]

مفهوم : د خداے شان دادے چې کله د يو څه اراده وکړي ، ورته ووائي وشه ، هغه بيا شوے وي ـ

د الوهي تعامل نه يو اړخ ته ، کله چې مونږ په دنيا کښې ګورو نو هر يو ايجاد او اختراع هغه که مادي او که

غېر مادي ، د انساني نسل د ضرورتونو نه پېدا کېږي او ځکه خو دا مشهوره خبره ده چې ''ضرورت د ايجاد مور وي '' هم په دې اساس د دنيا د جديد سائنس د ايجاداتو تاريخ گواه دے چې د هر ضرورت ختمولو او د هغې حل راويستلو دپاره ددغه ضرورت د احساس نه پس ددې ضرورت د ختمولو اراده بنيادي څيز وي ـ دا اراده د تحريک بنياد وي چې د تحقيق په وجود خور شوے جود د ختمولو دپاره قدم اچتوي ـ

''مکتبي قاموس'' د لفظ تحريک تشريح داسې کوي ـ

تحريک ( ع ) ښورول ، خوخول ، ( مجازاً ، چا ته ټونگ ورکول ، پورته کول[4] ـ

هم د پښتو اکېډيمۍ له خوا چاپ شوے يو بل قاموس د تحريک معنې او مختلفو مشتقات داسې سړي ـ

تحريک : لمسون ، پاڅون ، حرکت ، خوځښت

تحريک ورکول ، راپلل ، بېدارول ، وشتول

تحريک بېدارول ، له خوبه جگول ، له خوبه پاڅول ، اوچتول ، پورته کول ، پاڅول ، ويښول، لمسول ، ولاړول ـ

تحريکېدل ، شخ ودرېدل ، نېغ ودرېدل ، درېدل ، شخېدل ، جگېدل ، سختېدل ، راجگېدل، راپورته کېدل ، راپاڅېدل ، راولاړېدل ، نېغېدل[5] ـ

اصطلاح کښې تحريک هغه انفرادي يا اجتماعي حرکت ته وائي چې په ټولنه کښې د روان دستوري روايتي حالاتو په ضد شعوري طور د بدلون راوستو سوچ پېدا شي ـ د تحريک تر لارې په ټولنه کښې د بدلون راوستلو دا عمل بېخي فطري وي ـ د تحريک سره وابسته غړي په خپله هم د خپل سوچ په حقله پوهه وي او دې سره هغوي مختلف اواز او وسائل استعمالوي چې دغه مطلوبه بدلون راولي ـ

ددې بحث په رڼا کښې مونږ د تحريک دا معنې کولې شو چې کله انسان خپل چاپېرچل کښې د روانو حالاتو په ليدو دا محسوس کړي چې که دغه حالاتو دپاره روان روايتي تفکر کښې څۀ بدلون راوستے شي يا دا چې کوم روايتي تفکر او عملي رواج دے ـ دا بېخي بدل کړے شي نو نتيجتاً به ژوند محفوظ ، اسان او سوکاله شي او بيا د خپل دې فکر مخې ته وړلو دپاره هغه ځان سره د خپلې ټولنې خلق ملگري کړي او دوي يو اجتماعي کوشش شروع کړي نو دې ته به مونږ اصطلاحاً تحريک وئيلے شو ـ ځکه چې تحريک د حرکت دپاره د وړومبي اړم ورکولو نوم دے او دا يو فطري قانون دے چې حرکت حرارت پېدا کوي او حرارت په ماده کښې د بدلون سبب گرځي ـ

'' په مذهبي بنياد د سياسي تحريکونو روايت

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

انساني تاريخ کښې اګاهو هم موجود وۀ خو د شلمې
پېړۍ په وروستي پار کښې ددې نړيوال رجحان او
دې کښې ارتلونکي شدت سره دا سوال پورته کېږي
يا دا به خطره زېږوي که د امن لاره به ورسره
وسپړدې شي او آيا چې دې نه به د قومونو د اوږد
مهاله پرمختګ دپاره هم څۀ امکان راوځي ــ ''

دې اقتباس کښې يو خوا که دغه مذهبي تحريکونه په سياسي بللے شوي دي نو بل خوا د اقتباس نه وړاندې زمونږ د کړي عرض ملاتړ هم کوي ــ دغه سياسي لفظ خصوصاً ځکه د پام وړ دے او زۀ پرې زور رادوړم چې مذهبي تحريکونه اکثر د يو الوهي تقدس سره وتړلے شي خو که په مونږ ئې سوچ وکړو نو دا هم د طاقت زور او اختيار دپاره د يوې وسيلې په توګه استعمالولے شي ــ پښتون افغان قوم اګرچې تسلسل سره د مذهب پخه نوم د اوچت شوو تحريکونو سياسي او غېر سياسي متشدد جنګونو کښې زورلے شوي دي ــ ځکه ددې خاورې په تاريخ کښې دا حقيقتونه زيات څرګند او راڼۀ ښکاري ــ

د تحريک دپاره بنيادي محرک چې تر څو د يو وګړي (فرد) په ذهن کښې وي نو هغه زوړ ترې نۀ زېږېږي خو کله چې دا په يو وخت کښې د مختلفو افرادو په خولۀ شي نو دې ته ښالي ډاکټر انور سديد د رجحان نامه ورکړې ده[6] ــ د رجحان جوړېدو نه پس مرحله کښې اولس دغه بنيادي محرکاتو باندې خبرې پېل کړي ــ شاعران ، اديبان په دغه موضوع شاعري شروع کړي ــ

دغه شان د بايزيد انصاري تحريک هم هغه تحريک دے چې کم و بېش خلق به وي چې دې تحريک نه به ناخبره وي ــ د بايزيد تحريک هغه تحريک دے چې اول خو سوچه مذهبي وۀ چې هغه د مذهب په نامه شروع کړے وۀ خو ولې دغه وخت د هغه بلها ډېر مخالفين هم راپېدا شول چې په هغه باندې ئې رنګ رنګ فتوې جاري کړې خو ولې بيا هم ددۀ په مريدانو کښې ګڼ شمېر اضافه وشوله او د هغه ملاتړ هم جوړ شول ــ

'' دغه شان ملا ارزاني هم په دغو خلقو کښې شامل
وۀ ــ ددې د بايزيد په لاس بيعت کولو د هغه په
مريدانو کښې د شاملېدو دپاره د هندوستان نه
راغلے وۀ ــ دوي د پښتنو د خوېشکي قبيلې سره
تعلق لرلو او په قصور ښار کښې اوسېدو[7] ــ ''

د بايزيد انصاري تحتريک چې څومره خهم کامياب يا ناکامه شو خو ولې دې تحريک ګڼ شمېر شاعران راپېدا کړل چې پښتو ادب ته ئې تر ډېره حده وده ورکړه او د پښتو ادب جولۍ ئې

د شاعرانو نه ډکه کړه ـ هسې خو د امير کروړ نه واخله تر اتمې هجرى پورې مختلف شاعران تېر شوي دي خو د معلوم تاريخ تر مخه په باقاعده توګه چې کوم صاحب ديوان شاعر دے هغه مُلا ارزاني خوېشکي دے ـ

## ملا ارزاني خېشكي زمند :-

ملا ارزاني خېشکي زمند د روښاني مکتبه فکر هغه نمائنده فاضل او قادر الکلامه شاعر او دانشور دے چې مخالفين ئې هم د علميت معترف پاتې شوي دي ـ د روښاني فکر او فلسفې په تبليغ او ترويج کښې ئې اهم کردار لوبولے دے او ددې نظريې د مبلغ ، مفسر او علمبردار په حېث ئې ځان راوړاندې کړے دے ـ په روښاني مکتب فکر کښې د ملا ارزاني حېثيت دومره مسلم دے چې د قديم نه راواخله د جديد پورې هر ليکوال په څۀ نه څۀ رنګ کښې ستائيلے او قدرولے دے ـ خپل همعصر دولت لوانړے ئې داسې ستائي ـ

بې مرزا بې ارزاني بې مخلص ياره
بل شاعر برابر نۀ دے پـښتو ستا يو[8]

صوفي شاعر عبدالرحمان بابا ئې داسې ستائينه کړې ده ـ

د مرزا ، د ارزاني دعوه به پرې کا
قدردان د شـــاعرانو رحمان راغے[9]

اشرف خان هجري ئې په خپله يوه قصيده ''قصيده مشتمله په احوال و حقيقت د شعراؤ'' کښې داسې ذکر کړے دے ـ

ارزاني ، دولت د خپل دور بلبل وو
نن ئې ولي زماني د شـــعر فر دے[10]

ډاکټر راج ولي شاه خټک په خپله مقاله '' د پښتو ادبي تحريکونه'' کښې د بايزيد انصاري د خلفاؤ په حقله ليکي ـ

'' د بايزيد انصاري په خلفاؤ کښې ډېر د پوهې خاوندان ، عالمان او شاعران داسې وو چا چې د قلم په ذريعه تر مودو مودو دا تحريک ژوندي و ساتلو ـــــــ د بايزيد د فلسفې ، مکتب فکر د اشاعت نه علاوه دغه نوموړو کسانو د پـښتو ژبې او ادب د پرمختګ دپاره د خپل فکر په رڼا کښـــې سترې کارنامې ترسره کړې[11] ـ ''

وړاندې د بايزيد انصاري د معتمد او خاص خليفه ملا ارزاني خېشکي زمند په حقله ليکي :

'' د پير روښـــان په خلفاؤ کښـــې چې کوم عالمان شاعران تېر شوي دي په هغوي کښې وړومبے نوم د ارزاني راځي ـ ارزاني د بايزيد انصاري د پښتو ادب د نوي مکتب فکر نمائنده او د پـښتو وړومبے

صاحب دیوان شاعر دے[12] ـ ''

بل ځاے ئې مقام او مرتبه داسې متعین کوي ـ

'' د روښاني ادبي مکتب فکر په شاعرانو کښې
مشر ارزاني دے ـ ارزاني یو عالم فاضل شاعر وۀ
ـ د پښتو ژبې یو پوخ شاعر وۀ [13]ـ ''

ملا ارزاني خېشکي د روښاني تصوف او فلسفي مفسر ، شارح و مبلغ او داعي دے ـ په تاریخي اعتبار سره د پښتو وړومبے صاحبِ دیوان شاعر دے ـ د روښانیانو ماهر ډاکټر پروېز مهجور خېشکي په خپله یوه مقاله کښې په دې حقله لیکي :

'' ارزاني خېشکي د بایزید روښان یو عالم ،
فاضل ، مجاهد ، شاعر او کلک ملګرے وۀ ـــــ د
پښتو ، فارسی ، عربی او هندی څلورو ژبو کامل
عالم وۀ ـ د بایزید روښان په ملګرو کښې د لوے
نوم او شان خاوند وۀ ـــــ تر دې چې مخالفین ئې
هم د علمي فضیلت معترف وو[14]ـ ''

بل ځاے ئې د علمي شخصیت او استعداد په حقله لیکي :

''د روښانیانو په تصوفي او ادبه مکتب کښې
ارزاني د یو لوے شان او احترام خاوند دے ـــ د
پیر روښان په عالمانو او دانشورانو ملګرو کښې
ارزاني د دۀ د ټولو نه زیات د اعتماد وړ ملګرے
وۀ ـ ځکه خو دے د پیر روښان د فکر او فلسفې د
ټولو نه زیات یو معتبر مفسر ګڼلے شي[15] ـ ''

ارزاني د پیر روښان د ټولو نه وړومبې صوفي دانشور ملګرے وۀ او د روښاني تصوف ډېر لوړ مقام باندې ولاړ مبلغ او مفسر هم وۀ ـــ ارزاني د خپل پیر نامه نۀ ډېره اخلي ولې په خپل دیوان کښې ئې صرف په دې رباعی کښې خپل نوم سره یاد کړے دے ـ

د الف نامه بازي ده
له منصور له بایزیده
له هر چا محیط همان دے
له بایزید تر بایزیده[16]

ددې ټولو معتبرو حوالو نه دا خبره ډاګیزه کېږي چې ملا ارزاني خې شکي زمند د پیر رو ښان د ټولو نه معتبر خلیفه او ملګرے وۀ ـــ د روښاني مکتبه فکر د ټولو نه مستند او معتبر مبلغ او مفسر وۀ او په روښني مکتبه فکر کښې د لوے علم و فضل خاوند وۀ ـ

د ملا ارزاني په ژوند او دیوان باندې ډاکټر پروېز مهجور یوه علمي پي ایچ ډي کړې ده چې تر ډېره حده ئې په کښې د

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

هغه د ژوند متعلق معلومات کره وړاندې کړي دي ـ تر ټولو اول همېش خلیل صېب د ملا ارزاني د يو شعر په رڼا کښې د هغۀ د پلار نوم برهان ښودلے دے او ورستو ئې د عزيز نامي سره منسوب کړے دې ـــــ هم دغسې د خېرالبيان مقدمه نګار دے د علي محمد مخلص رور ګڼي ـــــ ځکه چې په حالنامه کښې دده سره د يو ورور ملا علي محمد ذکر راغلے دے کوم چې دۀ سره شريک د قصور نه راغلے وۀ او دواړو ورونړو د بايزيد انصاري سره مريدي اختيار کړې وه ـــــ د خپل ژوند متعلق خپل ځان سړبن ښائي او په سړبن کښې زمند دے او زمندو کښې خوېشکي دے لکه دغه شعرونه ئې :

ارزاني په پښتو ژبه
د خپل زړۀ وکېښ دا شعر
په سړبن کښې دے زمند دے
او په خوېشکو کښې له زېر دے
دے په خوېشکو کښې له زېر
د والد نوم ئې برهان دے[17]

زوکړه :-

ډاکټر پروفېسر مهجور خېشکي په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې ليکي :

’’ تر کومې چې د ارزاني د زوکړې خبره ده ـ دې لړ کښې په پوره يقين سره هېڅ نۀ شي وئيلے کېدے ـــــ تاريخونه او بيا خصوصاً زمونږ ادبي تاريخونه او تذکرې دې لړ کښې غلي دي[18] ـ ‘‘

بيا د مختلف تاريخي واقعاتو او شهادتونو په بنياد د ملا ارزاني خېشکي د زوکړې نېټه داسې قياس کوي ـ

’’ نو ددې قياس په حساب مونږ دده د زېږون نېټۀ ۱۵۲۳عيسوي يا ۹۲۹هجري خواؤ شا ګڼلے شو ـ ‘‘

مړينه :-

د ملا ارزاني خېشکي ژوند د ۱۰۱۰ هجري پورې يقيني دې خو له دې نه وروستو ئې د ژوند په حقله تاريخ خاموش دے ـ دغه نېټه ئې هم محقيقنو د ديوان د داخلي شهادت په اساس ټاکلې ده ـ ملا ارزاني په خپل ديوان کښې وائي ـ

ارزاني وېنا کړه عرض
اشنائي د حق ده فرض
ددې عرض تاريخ اوغواړه
په حساب له حرف يرض[19]

د حرف ’’يرض‘‘ نه د ابجدو په حساب ۱۰۱۰ هجري راوځي ـ

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

همېش خلیل په دې حقله لیکي :

'' د ارزاني د زېږېدنې او مړینې صحیح کلونه هم معلوم نهٔ دي ـــــ البته د یو شعر له مخه د هغهٔ ژوند تر کال ۱۰۱۰هجري یقیني دے ـ شعر دادے :

غېن زردال ئې خلور دے
په شپږ یاد حساب د واؤ دے[20]

ښاغلي ډاکټر حنیف خلیل ئې د زوکړې او مرګ نېټې متعلق لیکي :-

'' ڈاکٹر پرویز مہجور کی تحقیق کے مطابق آپ کی تاریخی پیدائش 929ہجری اور تاریخ وفات 1010ہجری متعین ہوسکتی ہے۔[21] ''

ډاکټر پروېز مهجور خېشکي ئې د مړینې د کال په حقله لیکي :

''د ارزاني د مړینې په حقله حالنامه هم څهٔ نه وائي ـــــ د ارزاني د دیوان تر مخه ددهٔ د ژوند اثار تر ۱۰۱۰هجري یا ۱٦۰۱عیسوي پورې یقیني دي ـــــ خو په ۲۰۰۲ء کښې د بي بي سي په اردو سروس کښې د عبدالخالق رشید یوې څېړنې او د نعیمه احمد مهجور د پېشکش تر مخه د هند د بهار صوبې په ''پټنه' و نومې ښار کښې ددهٔ قبر او مشهور زیارت دے او ددغه قبر په کتبه باندې ددهٔ د مړینې کال ۱۰۲۸هجري لیک دے[22] ـ ''

دے د وحدت الوجود قائل وهٔ لکه چې دا شعرونه :

ملا پټه خزینه وه
دے مشغول له خپل وجوده
چې ئې محبت عالي شه
حلقه ئې کړه موجوده
د کثرت په مېدان راغے
پټ دي یو څرګنده دوده
د عنصر لباس ئې واغوست
که مسلم ګهي هندو ده
د پندګی نامه ئې کېښوه
خود ساجد دے خود مسجوده
ارزاني دا ثنا کړي
کل له واجب الوجوده[23]

اثار :-

ملا ارزاني خې شکي په روښاني مکتبه فکر کښې یو ډېر لوے علمي او ادبي شخصیت وهٔ ـــــ په نظم او نثر ئې عبور

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

لرلو او د ګنو ژبو ماهر هم وۀ ـــــ تر دې دمه ئې د ملا ارزاني د کومو تصنيفاتو نومونه مخې ته راغلي دي د هغې تفصيل په دې ډول دے ـ

(۱) ديوان ارزاني :-

ملا ارزاني د پښتو وړومبے صاحب ديوان شاعر دے ـ د ارزاني د پښتو ديوان په حقله ډاکټر پروېز مهجور خېشکي ليکي :

'' ارزاني د پښتو ژبې يو ضخيم ديوان لري ـــ د ارزاني دا ديوان چې قابو شپږ زره شعرونه لري د تصوف او سلوک د اسرارو او رموزو نه ډک دے ـ د وحدت الوجود د خيالاتو د اظهار خزانه ده ـ د روښاني فکر او فلسفې او د هغې د مذهبي مشن يو تشريح او توضيح ده[24] ـ ''

(۲) مرات المحققين :-

د ملا ارزاني ددې کتاب په حقله ډاکټر پروېز مهجور خې شکي د حالنامې په حواله ليکي :

''حالنامه د ارزاني د يو فارسي کتاب مرات المحققين ذکر په خصوصي توګه سره کوي ـــ دې کتاب کښې لکه چې د پندونو په شکل کښې وۀ ـــ د تصوف اسرار او رموز بيان شوي دي ـــ حالنامه ددې پندونو يو څو نمونې هم د ۲۰۸ نه واخله تر ۲۱۳ مخ پورې درج کړې دي[25] ـ ''

(۳) د نثر رساله :-

د ملا ارزاني د يوې وړوکې رسالې ذکر هم کېږي چې په نثر اړتيا لري ـــ ددې رسالې د موضوع او موضوعاتو په حقله ډاکټر پروېز مهجور ليکي :

''د موضوع په حواله په دې رساله کښې په لنډه توګه د خداے د معرفت او د توبې په سمېټ د قرآن او حديث په رڼا کښې ذکر شوے دے ـــ بيا د يو طالب نه د بيعت اخستو طريقه ښودلې شوې ده ـــ بيا په دغه ترتيب په پنځ بناء د عمل ، د دوامي ذکر په ضرورت ، د اوو خصلتونو ، د روښاني مقامونو ، د سماع د حلال او حرام ، د جاري روح ، مقيمي روح ، د امين روح ، د اضافي روح او قدوسي روح ، د څلورو عناصرو ، د فقر ، د ذات او صفات ، د جلي او خفي شکر او د اسم اعظم وغېره ذکر شوے دے[26] ـ ''

(۴) چهار زبان :-

اخون درويزه بابا په خپل کتاب تذکرة الابرار والاشــــرار

کښې د ملا ارزاني خېشکي د يو کتاب ''چهار زبان '' ذکر هم کړے دے ـــ ددې کتاب په حقله ډاکټر پروېز مهجور ليکي :

''دا کتاب لا تر اوسه لاس ته نۀ دے راغلے نو
ددې د حقيقت او موضوع په حقله څۀ نۀ شي وئيلے
کېدے خو زما خپل خيال دادے چې دا هم
''خېرالبيان'' يادوي[27] ـ''

له دې نه علاوه د ملا ارزاني د څۀ نورو کتابونو تذکره هم کېږي چې څۀ محققينو قبول کړي او څۀ ئې رد کړې ده ـ لکه د ارزاني مکتوبات ، ارزاني بې نومه رساله ، د حضرت رسول خواب، حکايت رسول ، د ارزاني عربي ، هندي او فارسي شعرونه وغېره ـ

**د ملا ارزاني متعلق د اخوند درويزه صېب دغه رايه ده چې دے د بايزيد انصاري مريد وۀ خو چې کله دۀ ته د هغه د اصليت پته ولګېده نو دے ترې خفه شو او هندوستان ته لاړ او هلته مېشتۀ شو ـــ چې هم هلته ئې ژوند اختيار کړو ـــ ولې د اخون درويزه دا خبره څکه سمه نۀ ده چې ګمان دا کېږي چې دے هندوستان ته د روښاني تبليغ په سلسله کښې تلے وۀ څکه چې که دے د پير روښان نه مرور تلے وۀ نو شايد غالب ګمان دے چې ددۀ شاعري به د روښاني اثر نه پاکه وه مګر ددۀ ټول ديوان تر اخره پورې دغه شهادت ورکوي چې دے هر چرته هم وۀ دۀ د پير روښان تعليمات په خپل شعر کښې ښودلي دي ـ**

د احد په ميم احمد دے
احد پورې له احمده
په دا نمر توتا هوسی کړه
شب پرک مشغول له کلکه[28]

يا بل ځاے داسې وائي چې :

د عنصر څادر ئې واغوست
دا عنصر په څلور پټ دے
په دا چار عنصر ئې غواړو
چار عنصر د شهی کټ دے
هر چې دا شها نۀ وينې
د هغۀ زړګي چمغټ دے[29]

ارزاني خوېشکي پښتو شاعرئ ته ډېرې بخښنې کړې دي او پښتو ادب له ئې ډېره په خلاص مټ کوششونه کړي دي ـــ دۀ د پښتون ثقافت ، پښتو ژبې او پښتون قوميت د ودې دپاره ئې

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

هم شعوري كوششونه كړي دي ــ ددۀ په شاعرئ كښې د پښتو او پښتون افغان الفاظ په ډېر ښۀ انداز سره استعمال كړي دي لكه چې وائي :

ارزاني په پښتو ژبه
د زړۀ وكښل ډُرونه
د ارزاني پښتو خبره
لكه سپينه ملغلره
د ارزاني پښتو خبره
پټه نۀ ده له فهيمه
دې فقير په پښتو وكښل
ددې خپل زړۀ دليلونه
ارزاني په پښتو ژبه
كل صفت كړي د مولا
په پښتو په څو څو طرح
د ارزاني پښتو خبرې
دا ثابتې دي په شرعې
د ارزاني غزل پښتو دے
په حديث ثابت په نص دے
ارزاني په پښتو راوړې
ښې معنې د عربيو
دا خبره كه پښتو ده
څوك دې نه كا ځينې كركه
د پښتو خبره واوره
ددې ارزاني افغان
د فقير ديوان پښتو دے
د سعدي دے له شيرازه
ارزاني په پښتو اووې
نن ئې غاړه كړه ازاده[30]

Volume 7 | Issue II | July – December 2022

# حواله جات

[1] انور سدید، ڈاکٹر، اردو کی ادبی تحریکیں، کراچی، فضل سنز (پرائیویٹ) لمیٹڈ، اشاعت سوم، 1996ء، ص 23

[2] کتاب مقدس، لاہور، پاکستان، بائبل سوسائٹی، 1958ء، ص 5

[3] سورة يٰس ، آيت ٨٢

[4] رشاد ، عبدالشكور ، علامه ، متكبي قاموس ، كوټه ، پښتو اكېډيمي بلوچستان ، ٢٠١٥ء ، مخ ٧٦

[5] اڅكزے ، احمد ولي ، د پښتو همنانيزونو او ورته لغتونو قاموس ، كوټه ، پښتو اكېډيمي ٢٠١٥ء ، ص ١٩٧

[6] انور سدید، ڈاکٹر، اردو کی ادبی تحریکیں۔ ص 27

[7] پروفېسر ډاكټر يار محمد مغموم ، روښانيان او پښتو ادب ، پښتو اكېډيمي پېښور يونيورسټي، مخ ٤٠٨

[8] ديوان دولت لواني ، مقدمه عبدالشكور رشاد ، دنش خپرندويه ټولنه ، ٢٠١٢ء ، مخ ٧٤

[9] ديوان عبدالرحمان بابا ، مرتب ميا سيد رسول رسا ، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، مارچ ٢٠٠٩ء ، مخ ٢٠٩

[10] ديوان اشرف خان هجري ، مرتب همېش خليل ، پښتو اكېډيمي پېښور پوهنتون ، ٢٠٠١ء، مخ ٣٥

[11] د پښتو ادبي تحريكونه ، ډاكټر راج ولي شاه خټک ، پښتو اكېډيمي پېښور پوهنتون ، ١٩٨٩ء، مخ ٩١

[12] همدغه اثر ، مخ ٩١

[13] همدغه اثر ، مخ ٩٤

[14] مياشتنى پښتو ، پښتو اكېډيمي پېښور پوهنتون ، جنوري ١٩٨٩ء ، مخ ٥

[15] د ارزاني خوېشكي كليات ، ډاكټر پروېز مهجور خوېشكي ، پښتو اكېډيمي پېښور پوهنتون، جون ٢٠٠٥ء ، مخ ٨٣

[16] همدغه اثر ، مخ ٧٠

[17] همدغه اثر ، مخ ٥٧

[18] همدغه اثر ، مخ ٥٩

[19] د پښتو د نثر وړومبى نخښې ، ډاكټر عرفان خټک ، اكوړه خټک ، ٢٠١١ء ، مخ ١٢٠

[20] د پښتو شعري ادب ، همېش خليل ، پښتو اكېډيمي پېښور پوهنتون ، دسمبر٢٠٠٨ء، مخ ١٣

[21] پشتو زبان و ادب کی تاریخ، ڈاکٹر حنیف خلیل، یونیورسٹی بک پبلشرز پشاور، اگست 2009ء، ص 91

---

[22] د ارزاني خوېشکي کليات ، ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي ، مخ ٦٣

[23] همدغه اثر ، مخ ٨٧

[24] همدغه اثر ، مخ ٩٥

[25] همدغه اثر ، مخ ٩٦

[26] همدغه اثر ، مخونه ٩٦ ، ٩٧

[27] همدغه اثر ، مخ ١٦٢

[28] همدغه اثر ، مخ ١٦٢

[29] همدغه اثر ، مخ ١٠٢

[30] روښانيان او پښتو ادب ، پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم ، مخونه ٤٤٨، ٤٤٩

Pukhtunkhwa Journal